AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۶/۰۹/۰۱

# ملي هینداره، د لرغونو تمدنونو د نبنو هینداره

سږکال، په کابل ادبي انجمن کې د ملي هینداره د لیکوال اروابناد محمدګل نوري د کار د پیل نوي کاله پوره شول. همدا راز په کتابي بڼه د اروابناد نوري د تلپاتي اثر ملي هینداره د دويم ټوک د خپرېدو اتيا کاله ووتل، د دې کتاب لومړی ټوک لا تر دې وړاندې په دیارلس سوه اتلس کې خپور شوی و.

که د پښتني فرهنګ لپاره په شلمه پېړۍ کې لس تر ټولو مهم کتابونه خپاره شوي وي، يو يې ملي هينداره دی. پتې خان خبر سو، چې مور دي راغلي ده، په پلانی دروازه کي ولاړه ده، نه دي پرېږدي، د کلاَبُس دوې دروازې وې، فتح خان پربله دروازه ځني ووت، چې مور يې خبره سوه چې فتحخان پر بله دروازه ووت، نو يې ناره وکړه:

**که دوې دي لويه خدايه کلاَبُس دروازې دوې دي**
**پر دا يوه مي فتح وځي پر دا بله يې د مور، مور سوې ناري دي**

يوه پښتو ځېرونکي ختيځپوه يوځل ليکلي وو، چې که پښتو ژبې نور هېڅ ليکلي ادبيات نه‌لرلی، يوازې لنډۍ او د ملي هينداره کيسې يې هم بس وې، چې له فرهنګي پلوه د نړۍ د بډايو ژبو په کتار کې ودريږي. دا کومه احساساتي يا د مبالغي خبره نه‌ده.

ملي هينداره د پښتنو په ګډه ملي حافظه کې د دوی د لرغونيو تمدنونو له ميراث او معنوي ارزښتونو څخه هغه راپاتي خزانه ده، چې په کمو تمدني حوزو کې يې داسې سوچه ولسي بېلګې موندلی شو.

ملي هينداره په پراخه پيمانه د بهرنيو پښتوځېرونکيو او ختيځپوهانو لپاره پاموړ کتاب دی، اروابناد استاد عبدالروف بېنوا پينځه شپېته کاله مخکې د دې کتاب په اړه وليکل:

محمدګل نوري په ملي هينداره کې پښتني ملي کيسې ليکلي دي، چې نه يوازې دننه په هېواد کې هېوادوالو خوښې کړي دي، بلکې د خارجي مستشرقينو توجه يې هم جلب کړې ده او په ځينو خارجي ژبو ترجمه سوي هم دي. په ملي هينداره کې له تاريخي پلوه له اساطيري دوران څخه تاريخي زماني ته د پښتنو د تکاملي مزل تګلوری موندلی شو،

فتح خان بړيځي يا فتح خان و رابيا، خوشکيار او شاترينه، ښادي او بيبو، زبزبانه ښاپېرۍ، مومن خان او شيرينو، دلی او شهو، ادم خان او درخانی انار ژړان او سپب خندان، لمبولال يا نيمبولال يې يوڅو کيسې دي، چې اساطيري عظمت لري، څه کيسې پهکي د ژويو د کرکټرونو په مرسته لوبيږي، چې د قابل ځانګړني لري او کېڼمت د کليله و دمنه په شان د سياست او حکمت تمثيل کوي، د تاريخي دوران ګني کيسې هم په کې شته.

که څه هم دا کتاب وار وار چاپ شوی او ګڼو نالوستيو پښتنو ته يې روايتونه په زړه و ذهن کې خوندي او ژوندي دي، خو لا هم هغسې پېژندل شوی نه‌دی، چې د يوې ملي وثيقې په سترګه ورته وکتل شي. يو لامل يې دا دی، چې ان تحصيلکړي افغانان هم د دغې ټولګې له تاريخي فرهنګي ارزښتونو ډېر نه‌دي خبر. افغانستان يو بې‌وزلی هېواد دی او پښتنو هم له دې ارخه بې‌وزلي ژبه ده، چې يو پياوړی حاکميت يې ملاتړ نه‌کوي او که نه ملي هينداره بايد د نړۍ په ژونديو ژبو ژباړل شوې وای او نن د هغو ولسي متنونو په کتار کې ولاړ کتاب وای، چې بشريت يې د خپل ګډ نړيوال فرهنګي ميراث برخې بولي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ